

هفته واره رساله

# د مدينې منورې زيارتونه

(پښتو)







- د مدينې منوّرې 12 نومونه
- د مدينې په تکليفونو باندې د صبر فضيلت
- د مدينې منوّرې 17 خصوصيات
- په مسجد نبوي شريف کښې د نمونځ فضائل


شيخ طريقت امير اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا ابو بِلال

**محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوِي**



ترجمه

TRANSLATION DEPARTMENT

(DAWAT-E-ISLAMI)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ط

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

# د مدينے منورې زيارتونه [1]

دُعائے عطّار: يا الله پاکه! څوک چې دا رساله "د مدينے منورې زيارتونه" ولولي يا واوري د هغهٔ د مدينے منورې با ادبه حاضري نصيب کړې او هغهٔ سره د مور او پلاره او سره د خاندانه بے حسابه اوبخښي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې پهٔ ما باندې پهٔ ورځ کښې زر [1000] کرته دُرُودِ پاک لولي هغهٔ به تر هغه وخته پورې نهٔ مرِ کيږي تر څو چې پهٔ جنّت کښې خپل مقام اونه ويني۔

(الترغيب والترہيب، 2/328، حديث:22)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ علٰی مُحَمَّد

## د مديـنـةُ الـمُنوَّره فضائل

اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د مدينے منورې ذِکر د عاشقانِ رسول د پاره د زړهٔ او ذهن د قرار سبب دے۔ د مدينے منورې عاشقان د دې پهٔ جُدايئ کښې ناقلاره وي او د زيارت يـې بے کچه ارماني لري - د دُنيا چې پهٔ څومره ژبو کښې هم څومره قصيدې د مديـنـةُ الـمنوره پهٔ جُدايئ او د دې د ديدار پهٔ ارمان کښې وئيلے شوې

[1] ... دا مضمون د امیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د کتاب "عاشق رسول کی 130 حکايات" د صفحه 247 نه تر 266 پورې اخستے شوے دے۔

دي يا وئيلے کيږي ھغه همره د دُنيا د يو ښار يا د سيمې د پاره نۀ دي وئيلے شوې او نۀ به ووئيلے شي، د چا چې يو ځل د مدينے منورې ديدن نصيب شي هغۀ خپل ځان ډير خوش نصيبه ګڼي او په مدينه منوره کښې تير شوي وختونه د هميشه د پاره يادګار ګرځوي- چا عاشقِ رسول څۀ ډير ښه وئيلي دي!

وُہی ساعتیں تھیں سُرور کی وُہی دن تھے حاصلِ زندگی
بَحُضورِ شافِعِ اُمّتاں مِری جِن دِنوں طَلَبی رہی

د ”مديـنـۃُ الـمنوره د زيارتونو“ د تفصيل نه مخکښې د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارک ښار څۀ فضائل ولولئ چې په زړۀ کښې مو د مدينے منورې محبت او شوق نور هم زيات شي:

## پۀ قرآنِ پاک کښې د مدينے منورې ذِکر

د قرآنِ کريم پۀ ډيرو ځايونو کښې د مدينے منورې ذِکر شوے دے مثلاً پۀ 28 سيپاره، سُورَۃُ الـمُنٰفِقون آيت نمبر: 8 کښې دي:

يَقُوْلُوْنَ لَىٕنْ رَّجَعْنَاۤ اِلَى الْمَدِیْنَةِ لَیُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ ؕ وَ لِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَ لِرَسُوْلِهٖ وَ لِلْمُؤْمِنِیْنَ وَ لٰكِنَّ الْمُنٰفِقِیْنَ لَا یَعْلَمُوْنَ۠ ﴿۸﴾

(پ: 28، سورۃ المنافقون: 8)

ترجمه کنزُالعِرفان: هغوئي وائي: قَسَم دے که مونږه مدينے ته بيرته لاړو نو ضرور به لوئي عِزّتمند د هغې نه لوئي ذِلّت والا اوباسي. حالانکې عِزّت خو د اللّٰه او د هغۀ د رسول او مسلمانانو د پاره دے خو منافقان نۀ پوهيږي-

## د ”مديـنـۃُ الـمُنوَّره“ د دولسو حرفونو پۀ نسبت سره د مدينے منورې 12 نومونه

علمائے کرامو د مديـنـۃُ الـمُنوَّره څه کم يا زيات 100 نومونه ليکلي دي او د دُنيا د يو ښار هم دومره نومونه نشته- د برکت حاصلولو د پاره دلته صِرف 12

مبارک نومونه وړاندې کولے شي: ﴿1﴾ مدينه ﴿2﴾ مديـنةُ الرَّسُول ﴿3﴾ طَيِّبه ﴿4﴾ دَارُ الآبرار ﴿5﴾ طابَه ﴿6﴾ مُبارَکه ﴿7﴾ ناجِيه ﴿8﴾ عاصِمه ﴿9﴾ شافِيَه ﴿10﴾ حَسَنه ﴿11﴾ جَزيرةُ العرب ﴿12﴾ سيِّدَةُ البُلدان-

نامِ مدینہ لے دیا چلنے لگی نسیمِ خُلد
سوزشِ غم کو ہم نے بھی کیسی ہوا بتائی کیوں (حدائقِ بخشش، ص96)

## پۀ مديـنةُ الـمُنوَّره کښې د وفات کيدو فضيلت

د دواړو جهانو د سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "پۀ تاسو کښې چې څوک پۀ مدينه کښې د وفات کيدو وَس لري هغۀ دې هُم پۀ مدينه کښې وفات شي ځکه چې څوک پۀ مدينه کښې وفات شي زۀ به د هغۀ شفاعت کووم او د هغۀ پۀ حق کښې به ګواهي ورکووم-" (شعب الايمان، 3/497، حديث:1482)

زمیں تھوڑی سی دیدے بہرِ مدفن اپنے کُوچے میں
لگا دے میرے پیارے میری مِٹّی بھی ٹھکانے سے
(ذوقِ نعت، ص215)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دَجَّال مديـنةُ الـمُنوَّره ته نشي داخليدے

د الله پاک د خوږ اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارک دے: عَلٰى اَنْقَابِ الْمَدِينَةِ مَلَائِكَةٌ لَّا يَدْخُلُهَا الطَّاعُوْنُ وَلَا الدَّجَّالُ- ترجمه: مدينے ته پۀ داخليدونکو ټولو لارو کښې فرښتے دي، دې ته به طاعون او دَجَّال نشي داخليدے-
(بخاری، 1/619، حديث: 1880)

## مديـنةُ الـمُنوَّره د هر آفت نه محفوظ ده

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "پۀ هغه ذات مې دې قَسم وي د کوم پۀ دستِ قُدرت کښې چې زما ځان دے! پۀ مدينه کښې نۀ يوه دَره

شته نۀ څۀ لاره خو پۀ هغې باندې دوه فرښتے دي کومې چې د دې حفاظت کوي- (مسلم، ص714، حديث:1374)

اِمام نَوَوي (رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه) فرمائي: پۀ دې روايت کښې د مديـنةُ الـمُنوَّره د فضيلت بيان دے او د تاجدارِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ زمانه کښې به د دې حفاظت کيدلو، پۀ کثرت سره به فرښتو حفاظت کولو او هغوئي ټولې دَرې د مدينے د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عزت زياتولو د پاره ګيرې کړې وې-

(شرح صحيح مسلم للنووی، 148/5)

مَلائِک لگاتے ہیں آنکھوں میں اپنی
شب و روز خاکِ مزارِ مدینہ

(ذوق نعت، ص212)

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ علٰى مُحَمَّد

## د مدينے منورې تازه ميوې

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه مروي دي چې خلقو به چې کله د موسم وړومبۍ ميوه ليدله، هغه به يـې د حُضُورِ پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې حاضروله، سرکارِ نامدار (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) به هغه راخستله او داسې دُعا به يـې کوله: اِلٰهی! تۀ زمونږ د پاره زمونږ پۀ ميوؤ کښې برکت واچوې او زمونږ د پاره زمونږه پۀ مدينه کښې برکت واچوې او زمونږ پۀ صاع او مُد (دا د پيمانو نومونه دي، پۀ دې) کښې برکت واچوې، يا الله! (پاکه) بے شکه ابراهيم ستا بنده او ستا خليل او ستا نبي دے او بے شکه زۀ ستا بنده او ستا نبي يم- هغوئي د مکې د پاره ستاسو نه سوال وکړو او زۀ د مدينے د پاره ستا نه سوال کووم، د هغې پۀ مِثل څنګه دُعا چې د مکې د پاره هغوئي وکړه او هُم هٰغه همره نور (يعنې چې د مدينے برکتونه

د مکې نه دوه چنده وي)- بيا به چې کوم وړوکے ماشوم مخامخ وو هغهٔ به يــې رابللو او هٰغه ميوه به يــې ورته عطا کوله- (مسلم، ص713، حديث:1373)

ہاتھ اُٹھا کر ایک ٹکڑا اے کریم!
ہیں سخی کے مال میں حقدار ہم
(حدائقِ بخشش، ص 83)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مدينه منوره به خلق پاک صفا کړي

د مدينے منورې د سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " ما ته د يو داسې کلي طرف ته (د هجرت) حکم وشو کوم چې به ټول کلي وخوري (يعنې پهٔ ټولو به غالب شي) خلق هغې ته "يَثرِب" وائي او هغه مدينه ده، (دا کلے به) خلق داسې پاک صفا کړي لکه څنګه چې بهټۍ د اوسپنې زنګ [صفا کوي]-"
(بخاری،617/1، حديث:1871)

## مدينے منورې ته يَثرِب وئيل ګناه ده

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پهٔ دې روايت کښې مديــنةُ الـمُنوَّره ته د "يَثرِب" وئيلو نه منع فرمائيلے شوې ده- پهٔ فتاویٰ رضويه جلد: 21، صفحه: 116 باندې دي: مدينهٔ طيِّبه ته يَثرِب وئيل ناجائزه، منع او ګناه ده او وئيلو والا ګنهګار دے- رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: څوک چې مدينے منورې ته يَثرِب ووائي پهٔ هغهٔ باندې توبه واجِب ده، مدينه طابه ده، مدينه طابه ده-

علّامه مُناوي پهٔ "تَيسِير شَرحِ جامعِ صغير" کښې فرمائي: د دې حديث نه معلومه شوه چې د مدينهٔ طيِّبه " يَثرِب" نوم کيښودل حرام دي ولې چې پهٔ يَثرِب وئيلو د توبې حکم فرمائيلے شوے دے او توبه د ګناه نه کيږي- (فتاویٰ رضويه،116/21)

## يَثرِب وئيل ولې منع دي؟

په فتاوىٰ رضويه، جلد: 21، صفحه 119 باندې دي: شيخ عبدُ الحق مُحَدِّث دِهلَوي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه په "اَشِعَّةُ اللَّمعات شَرحُ الِمشکوٰة" کښې فرمائي: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دلته د خلقو د اوسيدو او راجمع کيدو او د دې ښار سره د محبت په وجه د دې نوم "مدينه" کيښودو او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يَثرِب وئيلو نه منع وفرمائيله ځکه چې دا د جهالت د زمانې نوم دے يا دې د پاره چې دا د "ثَرب" نه جوړ دے د کوم معنىٰ چې هلاکت او فَساد دے او د "تَثرِيب" معنىٰ سزا او ملامتيا ده يا په دې وجه چې "يَثرِب" د يو بُت يا د کوم جابره او سرکشه انسان نوم وو- امام بخاري (رَحمَةُ اللهِ عَلَيه) په خپل تاريخ کښې يو حديث راوړے دے چې څوک يو ځل "يَثرِب" ووائي نو هغۀ له (په کفاره کښې) لس کرته "مدينه" وئيل پکار دي- په قرآنِ مجيد کښې چې کوم "يٰۤاَهۡلَ يَثۡرِبَ" (يعنې اے يَثرِب والؤ!) راغلي دي- هغه په اصل کښې د منافقانو قول (يعنې وئيلے شوې خبره) ده چې په يَثرِب وئيلو هغوئي د مديـنَةُ الـمُنوَّره د سپکاوي اراده لرله- په يو بَل روايت کښې دي چې يَثرِب وئيلو والا دې د الله پاک په بارګاه کښې اِستِغفار (يعنې توبه) وکړي او معافي دې وغواړي او بعضو فرمائيلي دي چې څوک مديـنَةُ الـمُنوَّره ته يَثرِب ووائي هغۀ له سزا ورکول پکار ده- د حيرانتيا خبره ده چې د بعضې لوئي خلقو په ژبه په شعرونو کښې لفظ "يَثرِب" وئيلے شوے دے او الله پاک ته ښه معلومه ده او د عظمت او شان والا عِلم بالکل پوخ او په هر قِسم باندې مکمل دے-

زندگی کیا ہے! مدینے کے کسی کُوچے میں موت
موت پاک و ہند کے ظُلمت کدے کی زندگی

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

## د مدینے منورې پۀ تکليفونو باندې د صبر کوونکي د پاره د شفاعت زيرے

د مدینے منورې د شهنشاه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: زما کوم اُمتي چي هم د مدینے پۀ تکليف او سخته باندې صبر وکړي زۀ به د قيامت پۀ ورځ د هغۀ شفيع (يعني شفاعت کولو والا) يم- (مسلم، ص716، حديث:1378)

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې ليکلي دي: (يعني) خصوصي شفاعت- حق دا دے چي دا وعده د ټول اُمت د پاره ده چي پۀ مدينه منوره کښې وفات کيدونکے د حضورِ انور (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د دې شفاعت حقدار دے-

طیبہ میں مَر کے ٹھنڈے چلے جاؤ آنکھیں بند
سیدھی سڑک یہ شہرِ شَفاعَت نگر کی ہے
(حدائقِ بخشش، ص222)

ياد ساتئ چي د حضورِ انور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هجرت نه مخکښې پۀ مکه معظمه کښې اوسيدل بهتر وو او د هجرت نه پس د فتح مکې نه مخکښې پۀ مکه معظمه کښې اوسيدل د مسلمان د پاره منع شول، هجرت واجب شو او د فتح مکې نه پس هلته اوسيدل خو جائز شو، خو پۀ مدينه منوره کښې اوسيدل افضل وګرځولے شو ولې چي دلته د حضور انور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُرب دے، ځکه ډير فضائل پۀ مدينه منوره کښې د اوسيدو د پاره راغلي دي- (مراٰةُالمناجيح، 210/4)

مدینہ اس لیے عطاؔر جان و دل سے ہے پیارا
کہ رہتے ہیں مِرے آقا مرے سَرْوَر مدینے میں
(وسائلِ بخشش، ص283)

## مديـنةُ الـمُنوَّره بهتره ده

زمونږه د دلبر، د ټولو نبيانو د سرور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”پۀ مدينے والؤ باندې به يوه زمانه داسې ضرور راځي چې خلق به د خوشحالۍ پۀ لټون کښې د دې ځائے نه د ورشوګانو(چرته چې ښاروي ښرېږي) طرف ته ووځي، بيا چې کله خوشحالي بيامومي نو واپس به راشي او د مدينے والا به د دې فراختيا طرف ته پۀ تللو راضي کوي حالانکې که هغوئي پوهيږي نو مدينه د هغوئي د پاره بهتر ده-“ (مسند امام احمد، 106/5، حديث:14686)

اُن کے دَر کی بھیک چھوڑیں سروَری کے واسطے
اُن کے دَر کی بھیک اچھی سروَری اچھی نہیں (ذوقِ نعت، ص185)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د مديـنةُ الـمُنوَّره پۀ تنګدستۍ باندې د صبر کوونکي د پاره د شفاعت زيرے

د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: پۀ مدينه منوره کښې د څيزونو نرخ (يعني قيمت) زيات شو او حالات سخت شول نو سرورِ کائنات صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: ”صبر وکړئ او خوشحاله شئ چې ما ستاسو صاع او مُد برکتي کړو او يو ځائے خوراک کوئ ځکه چې د يو خوراک دوه او د دوو خوراک څلور او د څلورو خوراک د پينځوو او شپږو د پاره کافي کيږي او بے شکه برکت پۀ يو ځائے کيدو کښې دے نو چا چې د مدينے پۀ تنګدستۍ او سختۍ باندې صبر وکړو زۀ به د قيامت پۀ ورځ د هغۀ شفاعت کووم يا به د هغۀ پۀ حق کښې ګواهي ورکووم او چا چې د دې د حالت نه مخ واړولو او د مدينے

نه ووتلو الله پاک به د هغوئي نه بهتر خلق په دې ځائے کښې اباد کړي او چا چې د مدينے والؤ سره د بدو کولو اراده وکړه الله پاک به هغۀ داسې وِيلي کړي لکه څنګه چې په اوبو کښې مالګه وِيلې کيږي- (مجمع الزوائد، 657/3، حديث:5819)

شهِ کونَین نے جب صَدَقہ بانٹا
زمانے بَھر کو دم میں کر دیا خوش (ذوقِ نعت، ص139)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د مدينۀ طيِّبه په تکليفونو باندې د صبر کولو فضيلت

د دعوتِ اِسلامي د مکـتبة الـمدينه د 243 صفحو د کتاب ”بہشت کی کنجیاں“ په صفحه 116 باندې دي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم فرمائيلي دي چې کوم کَس بِالقَصد (يعنې ارادةً) زما زيارت له راغلو هغۀ به د قيامت په ورځ زما په حفاظت کښې وي او کوم کَس چې په مدينه کښې اوسيدل اختيار کړي او د مدينے په تکليفونو صبر کوي نو زۀ به د قيامت په ورځ د هغۀ ګواهي ورکووم او د هغۀ شفاعت به کووم او کوم کَس چې په حَرَمَين (يعنې مکه، مدينه) کښې په يو کښې وفات شي الله پاک به هغۀ د قبر نه په داسې حالت کښې راووچت کړي چې هغۀ به د قيامت د ويرې نه په امن کښې وي- (مشکاة المصابيح، 512/1، حديث:2755)

## په مدينه منوره کښې اوسيدل څنګه دي؟

ياد ساتئ چې په مديـنةُ الـمُنوَّره کښې صرف هغه خلقو ته د پاتې کيدو اجازت دے ځوک چې د دې ځائے احترام په ځائے ساتلے شي، څوک چې داسې نشي کولے د هغۀ د پاره دلته مستقل يا تر ډيرې مودې پورې اوسيدل منع دي، په فتاویٰ رضويه مُخَرَّجه جلد: 10، صفحه: 695 باندې دي: (د فَتحُ القدير صاحب فرمائي:) زۀ وايم چې په مدينۀ طيِّبه کښې رحمت اکثر، بےسياره مهرباني، کرم د تولو

نه فراخه او عفو (يعنې معافي ميلاؤيدل) د ټولو نه زر کيږي لکه څنګه چې شاهِد مُجرَّب (يعنې د تجربې نه ثابت) دي وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْن- د دې باوجود د سترې کيدو [تنګيدو] ويره او د هغه ځائے احترام او توقير کښې د ادب د کمې ويره خو موجوده ده او ريا خو هم په مستقل اوسيدو کښې خنډ [يعنې رکاوټ] دے، آؤ هغه کسان کوم چې د فرښتے غوندې صفت لرونکے وي نو د هغوئي هلته پاتې کيدل او (تر ډيرې مودې پورې اوسيدل او) وفات کيدل کامِل سعادت دے-

## په مدينه منوره کښې د اِستِنجا کولو متعلق واقعه

اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په فتاوىٰ رضويه جلد: 10، صفحه: 689 باندې د " اَلمَدخَل" په حوالے واقعه ليکلې ده: " د السيِّدُ الجليل ابو عبدُ الله القاضي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په باره کښې بيان کړے شوي دي چې هغوئي ته د مدينے منورې په ښار کښې د اودس ماتې ضرورت پيښ شو نو هغوئي په ښار کښې يو طرف ته لاړو او هلته يې د اودس ماتې اِراده وکړه نو غيبي اواز وشو کوم چې د دغه عمل نه هغوئي منع کولو نو هغوئي ووئيل: " ټول حاجيان صاحبان چې داسې کوي" نو په جواب کښې درې کرته اواز وشو: د کوم ځائے حاجيان؟ د کوم ځائے حاجيان؟ د کوم ځائے حاجيان؟ بيا هغوئي د ښار نه بهر ووتل او اودس ماتے يې وکړو او بيا واپس راغلو-

## د مدينے منورې اصلي قيام د آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په احکامو باندې عمل کول دے

مخکښې بيا د " صاحبِ مَدخَل" په حواله نور ليکلے شوي دي: د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مجاورت [يعنې ګاونډګيري] د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په احکاماتو باندې دعمل کولو او د کومو خبرو نه چې يې منع فرمائيلې ده، د هغې

نه ځان بچ کولو په صورت کښې ده که انسان په هر ځائے کښې مقيم وي [يعنې اوسيږي] او اَصلاً (پهٔ حقيقت کښې) مجاورت (ګاونډګيري) هم دا ده-

(فتاوىٰ رضويه، 689/10)

غمِ مصطفٰے جس کے سینے میں ہے
کہیں بھی رہے وہ مدینے میں ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د مديـنـةُ الـمُنوَّره 17 خاصيتونه

(هسې خو د مدينے منورې بے شميره خاصيتونه دي خو د برکت حاصلولو د پاره دلته صرف د 17 بيان دے)

❀ پهٔ مخ د زمکه داسې بَل يو ښار نشته د کوم نومونه چې پهٔ دومره کثرت سره راغلي وي لکه څومره چې د مديـنـةُ الـمُنوَّره نومونه مبارک راغلي دي، بعضې علمائے کرامو تر 100 پورې نومونه ليکلي دي ❀ مديـنـةُ الـمُنوَّره داسې ښار دے د کوم پهٔ محبت او جدايۍ کښې چې د دُنيا د ټولو نه پهٔ زياتو ژبو او د ټولو نه پهٔ زياته شميره کښې قصيدې ليکلے شوې وې، ليکلے کيږي او دا لړۍ به هم دغه شان روانه وي ❀ د الله پاک خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې طرف ته هجرت وکړو او هم دلته يـې اوسيدل اختيار کړل ❀ الله پاک د دې نوم طابه کيښودےدے ❀ د مدينے منورې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به کله د سفر نه واپس تشريف راوړلو نو مديـنـةُ الـمُنوَّره ته چې به رانزدې شو نو د ډير شوق نه به يـې خپله سورلۍ تيزه کړه ❀ پهٔ مديـنـةُ الـمُنوَّره کښې به د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زړهٔ مبارک ته قرار حاصليدلو ❀ د دې ځائے دوړه به يـې د خپل نوراني مخ نه نهٔ لرې کوله او صحابهٔ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به يـې هم د دې نه منع کول او اِرشاد به يـې فرمائيلو

چې د مدینے پهٔ خاوره کښې شِفا ده۔ (جذب القلوب، ص22) د حضرت سعد بن ابي وقاص رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې کله رسولُ اللّٰه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غَزوَهٔ تبوک نه واپس تشریف راوړلو نو د تبوک [پهٔ غزهٔ] کښې د شاملیدو نه د پاتې شوو بعضو صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان سره میلاؤ شو، هغوئي دوړه وکړه، یو ګس خپله پوزه پټه کړه، نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د پوزې نه کپړه لرې کړه او ارشاد یـې وفرمائیلو: پهٔ هٔغه ذات مې دې قَسم وي د کوم پهٔ قبضهٔ قدرت کښې چې زما ځان دے! "د مدینے پهٔ خاوره کښې د هرې بیمارۍ نه شِفا ده۔" (جامع الاصول للجزری، 9/297، حدیث:6962) ✿ کله چې یو مسلمان د زیارت پهٔ نیت سره مدینـةُ الـمُنوَّره ته راځي نو فرښتے د رحمت پهٔ تحفو سره هغهٔ ته هر کلے وائي- الخ- (جذب القلوب، ص211 ) ✿ د مدینے منورې سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ مدینـةُ الـمُنوَّره کښې د وفات کیدو ترغیب ارشاد فرمائیلے دے ✿ دلته د وفات کیدونکي به د مدینے منورې سرکار، د مکې مکرمې سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شفاعت کوي ✿ څوک چې اودس وکړي او راشي او پهٔ مسجِدُ النَّبَوِيِّ الشَّریف کښې نـمونځ ادا کړي هغهٔ ته د حج ثواب میلاؤیږي ✿ د حُجرې مبارکې او د نوراني منبر ترمینځه ځائے د جنَّت پهٔ باغونو کښې یو باغ (د جنَّت باغیچه ) ده ✿ پهٔ مسجدِ النبوي الشریف کښې یو نـمونځ کول د 50 زره نـمونځونو برابر دے- (ابن ماجه، 2/176، حدیث:1413) ✿ د مدیـنـةُ الـمُنوَّره پهٔ زمکه باندې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مزار مبارک دے، چرته چې سحر او ماښام 70، 70 زره فرښتے حاضریږي ✿ د دې ځائے د زمکې هٔغه مبارکه حصه پهٔ کومه باندې چې د رسولِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وجود مبارک تشریف فرما دے هغه د هر ځائے تر دې چې د خانهٔ کعبې، بیتُ المَعمور، عَرش او

کُرسیِ او د جنَّت نه هم افضل دے ❀ دَجّال به مديـنةُ الـمُنوَّره ته نشي داخليدے ❀ د مدينے منورې والؤ سره د بدو اراده لرونکے به پۀ عذاب کښې راګيريږي ❀ د دې ځائے هديره "جنَّتُ البقيع" د دُنيا د ټولو هديرو نه افضل ده، دلته تقريباً 10 زره صحابۀ کرام و اَجِلَّه اهلِ بيتِ اَطهار عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان او بے شميره تابعينِ کِرام او اوليائے عِظام رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم او نور خوش قِسمته دفن دي۔

رہیں اُن کے جَلوے بَسیں اُن کے جَلوے

مِرا دل بنے یادگارِ مدینہ (ذوقِ نعت، ص213)

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علىٰ مُحَمَّد

## د مسجِدُ النَّبَوِيّ الشَّريف د زمکې حاصلول

د مسجِدُ النَّبَوِيّ الشَّريف زمکه د دوو يتيمانانو سَهل او سُهَيل (رَضِيَ اللهُ عَنۡهُما) ملکيت وه، دلته د مشرکانو قبرونه وو، زمکه هواره نۀ وه، د دې دواړو ماشومانو پالنه به حضرت اَسعد بن زُراره رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ کوله۔ پۀ دې زمکه باندې به کجورې وچولے کيدلې۔ حُضُور سيِّدِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ماشومانو ته وفرمائيل: د زمکې دا حصه پۀ مونږ باندې راخرڅه کړئ چې پۀ دې باندې جومات جوړ کړے شي۔ ماشومانو ډير پۀ ادب او احترام سره عرض وکړو: آقا! دا زمکه زمونږ د طرف نه د نذرانې پۀ توګه قبوله کړئ نو د مدينے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي دا پيش ګش [يعني وړانديز] قبول نکړو۔ اخر پۀ قيمت ادا کولو دا زمکه واخستے شوه۔ د مسلمانانو وړومبي خليفه، عاشقِ اکبر، صِدِّيقِ اکبر رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ 10 زره ديناره ادا کړل۔ (مدينةُ الرّسول،ص130) پۀ بَل روايت کښې دي چې دا ځائے د بَنُو نَجّار وو۔ د دواړو جهانو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د هغوئي نه دا ځائے پۀ بيعه وغوښتو نو هغوئي عرض وکړو: مونږ به د دې قيمت (يعني اَجر) د الله پاک نه اخلو۔ (وفاء الوفاء،1/323) زمکه تقريباً 100 مُربع ګز وه۔

## بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د جبريلِ امين عَلَیْہِ السَّلَام حاضري

د عظيم تابعي بُزُرګ حضرت حَسَن بَصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نه روايت دے چې حضورِ انور، د مدينے تاجوَر صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله د مسجِدُ النَّبَوِيِّ الشَّريف د جوړولو اراده وفرمائيله نو حضرت جبرئيل عَلَیْہِ السَّلَام حاضر شو او عرض يې وکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د دې لوړ والے اووه لاسونه (يعني تقريباً درې نيم ګزه) وساتئ، د دې په ښائست اوښکلا کښې دې تکلُّف نهٔ وي۔ (وفاء الوفاء، 1/336)

هُغه وخت د ودانو جوړولو انداز هم دا وو، په جومات کښې د تاخ په شان محراب، ګنبد او مُناره وغيره نهٔ وه۔ د حالاتو د بدلون په وجه اوس د عالي شان جوماتونو د جوړولو اجازت دے۔ د فتاوىٰ رضويه شريف په جلد: 8، صفحه 106 باندې د ''دُرِّ مُختار'' په حوالې سره د ورکړے شوې جُزيې حصه ده: (د محراب نه علاوه (د جومات په نورو حصو باندې) په نقش و نګار کښې هيڅ باک نشته) ځکه چې په محراب باندې جوړې شوې نقش ونګار نـمونځ کوونکے مشغول (غافله) کوي، البته د ډير زيات نقش و نګار جوړولو د پاره تَـکَلُّف کول خاص طور د قبلې طرف ته په ديوال کښې دا مکروه دي۔

## د مسجِدُ النَّبَوِيِّ الشَّريف جوړول

د دې زمکې (يعني پلاټ) نه د کجورو وَنې ووهلے شوې، (په ربيعُ الاوَّل وړومبی هجری مطابق اکتوبر کال 622ء کښې د مسجد النبوي الشريف بنياد کيښودے شو۔) د صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوان سره پخپله حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خختې راوړلې او په خپله خُله مبارکه باندې به يې دا هم فرمائيل: اَللّٰهُمَّ اِنَّ الْاَجْرَ اَجْرُ الْاٰخِرَۃ فَارْحَمِ الْاَنْصَارَ وَ الْمُهَاجِرَۃَ '' اے ربِّ قُدُّس! هُم د اخرت بدله بهتره ده، ته په اَنصارو او مهاجرينو باندې رحم وکړې۔'' (وفاء الوفاء، 1/326 تا 328)

## د مسجِدِ نبوي شريف پهٔ جوړولو کښې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شرکت وفرمائيلو

حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د مدينے والا آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خختې راوړلې،چې ما وليدلو نوعرض مې وکړو: يا رسولَ الله! دا خختې ما له راکړئ زهٔ به يـې يوسم ، اوئې فرمائيل: نورې ډيرې خختې پرتې دي، را يـې وړه! دا زهٔ وړم-(مسند امام احمد، 323/3، حديث:8960) مسجِدُ النَّبَوِيِّ الشَّريف د کچه خختو نه جوړ کړے شو او د دې چت د کجورو د څانګو وو او د دې ستنې د کجورو تنې وې- (وفاء الوفاء، 327/1)

تری سادگی پہ لاکھوں تری عاجزی پہ لاکھوں
ہوں سلامِ عاجزانہ مَدَنی مدینے والے (وسائل بخشش، ص285)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ علٰی مُحَمَّد

## پهٔ مسجِدُ النَّبَوِيِّ الشَّريف کښې د نـمونځ فضائل

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې فرامين: ﴿1﴾ چا چې پهٔ مسجِدُ النبوي الشريف کښې پرله پسې څلويښت [40] نـمونځونه ادا کړل، د هغهٔ د پاره د دوزخ او د نفاق نه نجات ليکلے کيږي- (مسند امام احمد، 311/4، حديث:12584)
﴿2﴾ چاچې ځان پاک او صفا کړو او صرف زما پهٔ جومات کښې د نـمونځ ادا کولو پهٔ ارادې سره راووتلو تر دې پورې چې پهٔ دې کښې يـې نـمونځ ادا کړو نو د هغهٔ ثواب د حج برابر دے- (شعب الايمان، 499/3، حديث:4191) ﴿3﴾ زما پهٔ دې جومات کښې يو نـمونځ د 50 زره نـمونځونو برابر دے- (ابن ماجه، 176/2، حديث:1413)

صد غیرتِ فِردوس مدینے کی زمیں ہے
باعث ہے یہی اس کا کہ تو اِس میں مکیں ہے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ علٰی مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# هفته واره رساله مطالعه

اَلْحَمْدُلِلّٰه ! د شيخ طريقت امير اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه او خليفهٔ اميرِ اهلِ سُنّت الحاج ابو اُسَيد عُبَيد رضا مَدَني مدّ ظلّه العالى له طرفه هره هفته د يوې رسالې لوستلو يا اوريدلو ترغيب ورکولے کيږي. ما شَآءَ اللّٰهُ الکريم! لاکهونه اسلامي ورونه او اسلامي خويندې دا رساله لولي يا اوري او د اميرِ اهلِ سُنّت او خليفهٔ اميرِ اهلِ سُنّت د دعاګانو نه حصّه موي. دا رساله په آډيو کښې د دعوت اسلامي د ويب سائټ www.Dawateislami.net يا د Read and listen Islamic book ايپلي کيشن نه فري ډاؤن لوډ کيدے شي. د ثواب په نيّت يې پخپله هُم ولوّلئ او د خپلو مرحومينو د ايصالِ ثواب دپاره يې شيئر هُم کړئ.

(شُعبه هفته واره رساله مطالعه)


فيضانِ مدينه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچي.

UAN +92 21 111 25 26 92 | 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net